# The Short Story of Pashto in Pashtunkhwa

Associate Prof Gulghutai Khawri

2020

ISBN 978-9936-661-00-4

په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه

خېړنواله گل غوټۍ خاوري

۱۳۹۹ لمریز کال

# په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه




خېړنواله گل غوټۍ خاوري

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

د ادبیاتو او متنپوهنې څانګه

# په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه

د خېړنوالۍ علمي رتبې ته د ترفېـــع لپاره

لیکواله: څېړنواله گل غوټۍ خاورې

۱۳۹۹لمریز کال

## د کتاب پېژندنه:

**د کتاب نوم:** په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه

**لیکواله:** څېړنواله گل غوټۍ خاورې

**لارښود استاد:** څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي

**ایډیټور او مهتمم:** څېړنپوه محمدنبي صلاحي

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۹ ل کال

**چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل - افغانستان

**چاپ شمېر:** ۵۰۰

**ISBN:** **۹۷۸-۹۹۳۶-٦٦١-٠٠-٤**

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخ**


د لاربنود استاد نظر.......................................أ

تقريظ ..........................................................و

تقريظ ......................................................... ي

تقريظ ......................................................... س

سريزه ......................................................... ۱

**لومړی څپرکی**

**د موضوع شالید**.........................................۹

**دویم څپرکی**

**د لنډې کیسې د پیدایښت څرنګوالی** .....................۲۹

د لنډې کیسې پېژندنه ..........................................۲۹

د لنډې کیسې د پیدایښت ضرورت او اهمیت .....................۳۰

د لنډې کیسې د پیدایښت د څرنګوالي بهیر ......................۳۳

په نړیوال ادب کې د لنډې کیسې بهیر ته ځغلنده کتنه..............۳۳

الف- په لره پښتونخوا کې د لنډې کیسې پیل ......................۳۷

د پښتو لنډې کیسې لومړی بهیر (پړاو) (۱۹۱۷- ۱۹۴۷م)..............۶۷

د پښتو لنډې کیسې دویم پړاو (۱۹۴۷ – ۱۹۸۲ م )..................۷۵

د پښتو لنډې کیسې درېیم پړاو(۱۹۸۲- تر ننه)........................۸۵

په درېیم پړاو کې د لنډې کیسې خورو ورو بهیر ......................۹۳

په پښتونخوا کې د لنډې کیسې د بهیرونو د وېش کره کتنه او ارزونه.......۹۵

**درېیم څپرکی**

**د لنډې کیسې ځانګړنې** .....................۱۰۳

د لنډې کیسې عامې ځانګړتیاوې.....................۱۰۳

فني او جوړښتي ځانګړنې.....................۱۰۸

لومړی- د لنډې کیسې او ناول توپیرونه .....................۱۱۶

دویم- له لنډې کیسې سره د ډرامې توپیرونه.....................۱۱۷

درېیم- د لنډې کیسې او ادبي ټوټې توپیر ........................................ ۱۱۸
څلورم- د لنډې کیسې او راپورتاژ توپیرونه ........................................ ۱۱۸
الف- د لنډې کیسې معیارونه........................................................ ۱۱۹
ب- آیا پښتو لنډې کیسې له دغو معیارونو سره برابرې لیکل شوې دي؟ ........... ۱۲۴

**څلورم څپرکی**

**په لره پښتونخوا کې د لنډې کیسې ځینې څېړې...........۱۴۷**

د لومړي پړاو (۱۹۱۷م – ۱۹۴۷م) پیاوړي کیسه لیکوال ........................ ۱۴۸
۱- سیدراحت زاخېلی (۱۸۸۴- ۱۹۶۳م) ........................................ ۱۴۸
۲- ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸م – ۱۹۶۱م)........................................ ۱۵۵
د کیسه لیکوال په حیث........................................................... ۱۵۶
۳- نادرخان بزمي (۱۹۲۱- ۲۰۰۰م) ........................................ ۱۶۱
د کیسه لیکونکي په حیث ........................................................ ۱۶۲
د دویم پړاو (۱۹۴۷م- ۱۹۸۰م) پیاوړي کیسه لیکوال .......................... ۱۶۷
۱- سید میر مهدي شاه پاچا (۱۹۲۶م – ۱۹۹۶م)................................ ۱۶۷
د کیسه لیکوال په حیث........................................................... ۱۶۸
۲- قلندر مومند (۱۹۳۰- ۲۰۰۳م) ............................................ ۱۷۳
د کیسه لیکونکې په حیث ........................................................ ۱۷۵
۳- زیتون بانو..................................................................... ۱۸۰
د کیسه لیکوالې په حیث ........................................................ ۱۸۲
۴- طاهر اپریدی ................................................................. ۱۸۸
د کیسه لیکوال په حیث........................................................... ۱۸۹
۵-گل افضل خان................................................................... ۱۹۶
د کیسه لیکوال په حیث........................................................... ۱۹۷
٦- ارباب رشیداحمد (۱۹۲۸- ۲۰۰۵م ) ........................................ ۲۰۷
د کیسه لیکوال په حیث........................................................... ۲۰۸
د درېیم پړاو پیاوړي کیسه لیکوال ............................................... ۲۱۱
۱- فاروق سرور ................................................................... ۲۱۱

د لنډې کيسې ليکونکي په توګه ........................................ ۲۱۲
۲- صفيه حليم ........................................ ۲۱۸
د کيسه ليکوالې په حيث ........................................ ۲۱۹
۳- قيوم مروت ........................................ ۲۲۶
د کيسه ليکوال په حيث........................................ ۲۲۷
۴- سيده حسينه ګل تنها ........................................ ۲۳۳
د کيسه ليکوالې په حيث ........................................ ۲۳٤
۵- عبدالکافي اديب (۱۹۴۲- ۱۹۹۴م) ........................................ ۲۳۹
د کيسه ليکوال په حيث........................................ ۲٤۰
٦- نګهت ياسمين دردمنه........................................ ۲٤٤
د کيسه ليکوالې په حيث ........................................ ۲٤۵

## پنځم څپرکی

**په پښتو لنډو کيسو کې سمبولونه** ........................................ ۲٤۹
د سمبول پېژندنه ........................................ ۲٤۹
د سمبول ډولونه ........................................ ۲۵۰
د سمبول ارزښت او اهميت........................................ ۲۵٦
۱- د سمبول ټولنيز ارزښت ........................................ ۲۵٦
۲- د سمبول ارواپوهنيز ارزښت........................................ ۲۵۷
۳- د سمبول ادبي – هنري ارزښت........................................ ۲۵۸
د سمبوليزم ادبي ښوونځی........................................ ۲۵۸
د پښتونخوا په پښتو لنډو کيسو کې د سمبولونو څرنګوالی........................................ ۲٦۲
لنډه تحليلي کتنه او ارزونه ........................................ ۲۷۷
۱- نورالامين يوسفزی د سمبوليکې کيسې ليکوال په حيث........................................ ۲۸۳
۲- فاروق سرور د سمبوليکې لنډې کيسې ليکوال په حيث ........................................ ۲۸۹

## شپږم څپرکی

**له پښتو نه په نورو او له نورو ژبو څخه پښتو ته ژباړل شوې لنډې کيسې**.. ۳۰۱
د ترجمې (ژباړې) پېژندنه........................................ ۳۰۱

د ژباړې ډولونه ........................................ ۳۰۱
د ژباړې ارزښت او اهمیت ........................................ ۳۰۴
الف- پښتو ته له نورو ژبو ژباړل شوې لنډې کیسې ........................................ ۳۰۶
۱- عکسونه ........................................ ۳۱۳
۲- د باچاهۍ آخري ورځ ........................................ ۳۱٤
۳- خوند د ژبې ........................................ ۳۱۵
۴- د منټو دوه شاهکار افسانې ........................................ ۳۱۵
د کابلی والا کیسې انګلیسي متن ........................................ ۳۱٦
د کابلي والا کیسې پښتو ژباړې متن ........................................ ۳۲۷
ب- نورو ژبو ته د پښتو ژباړل شوې لنډې کیسې ........................................ ۳۳۵
شاهکار افسانې ........................................ ۳۳۸
فسانه کهسار ........................................ ۳۳۸
شاهکار پشتو افسانې ........................................ ۳٤۱
صرف شرفاء کی لیی ........................................ ۳٤۲
له پښتو څخه اردو ته د ژباړل شوو کیسو پېژندنه او تحلیلي کتنه ........................................ ۳٤۵
د یوې بشپړې پښتو لنډې کیسې نمونه ........................................ ۳٤۸
د دې کیسې اردو ژباړه ........................................ ۳۵۱

## اووم څپرکی

**د څو پښتو لنډو کیسو تحلیل او څېړنه** ........................................ ۳۵۵
د موضوعي وېش څرنګوالی ........................................ ۳۵۵
د ارواپوهنې پېژندنه ........................................ ۳۵۹
ب- په پښتو لنډه کیسه کې سیاست ........................................ ۳۷۲
ج- پښتو لنډې کیسې او طنز ........................................ ۳۸۵
د طنز پېژندنه ........................................ ۳۸۵
د پښتونخوا په پښتو لنډو کیسو کې د طنز بېلګې ........................................ ۳۸۸
په پښتو لنډو کیسو کې د مینې بېلګې ........................................ ٤۰۳
هـ - په پښتو لنډو کیسو کې د ښځو څېره ........................................ ٤۱۲

د لنډو کیسو په بېلګو کې د پښتنې ښځې څېره ........................................ ٤١٥
١- د راحت په ځینو لنډو کیسو کې د ښځو څېره ........................................ ٤١٦
٢- د زیتون بانو په لنډو کیسو کې د ښځو څېره ........................................ ٤١٦
٣- په ((پېټ مخونه)) لنډو کیسو کې د ښځو څېره ........................................ ٤١٩
و- په پښتو لنډو کیسو کې ټولنیز مسایل ........................................ ٤٣٠
ټولنه او ټولنیز مسایل ........................................ ٤٣٠
١- د ټولنیزې اصلاح(سمون) لپاره فکرونه او پېغامونه ........................................ ٤٣٣
٢- د ټولنیزې همدردۍ، خواخوږۍ او همکارۍ پېغامونه ........................................ ٤٣٧
٣- په لنډو کیسو کې د ټولنیزو محرومیتونو انعکاس ........................................ ٤٤٠
ز- په پښتو لنډو کیسو کې د فولکلور انعکاس ........................................ ٤٤٨
د فولکلور پېژندنه ........................................ ٤٤٩
د پښتو منظوم ولسي ادبیات ........................................ ٤٥٠
الف- په پښتو لنډو کیسو کې متل، لنډۍ او اولسي محاورې ........................................ ٤٥١
درېیم) اصطلاحات او محاورې ........................................ ٤٥٦
ب- په لنډو کیسو کې د ځینو پښتني دودونو انعکاس ........................................ ٤٥٨
١- جرګه او مرکه ........................................ ٤٥٨
٢- ننواتې ........................................ ٤٦٠
٣- سوره ........................................ ٤٦١
پایله ........................................ ٤٦٩
وړاندیزونه ........................................ ٤٧٥
مأخذونه ........................................ ٤٧٧

# د لارښود استاد نظر

((په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه)) د هغې علمي ـ څېړنیزې پروژې سرلیک دی چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو انستیتوت، د ادبیاتو او متنپوهنې څانګې علمي غړې آغلې غوټۍ خاورې د څېړنوالۍ علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره په کمپوز شویو (۳۰۴) مخونو کې له (۸۴) ډېرو باوري سرچینو څخه په استفاده بشپړه کړې ده، پروژه د څېړونکې پر سریزې سربېره چې پکې د موضوع اهمیت، مبرمیت او د ترسره شوې څېړنې څېړندود(میتود) او څرنګوالی بیان شوی، اووه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او په پای کې د اخځلیکونو لیکلړ لري، زه یې د لارښود استاد په حیث د بشپړېدو د څرنګوالي په اړه خپل ګزارش په دې لاندې شرحه او تفصیل وړاندې کوم:

څرنګه چې په پښتونخوا کې د پښتو لنډې کیسې د پرمختیایي بهیر څېړنه له مخکې نه د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د څېړنیزو چارو په کړنلاره کې شامله وه، نو هغه یې د مخه د ښاغلي څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار په لارښوونه د پشپړولو لپاره د څېړندوی علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره آغلې څېړندوی غوټۍ خاورې ته سپارلې وه. څېړونکې هماغه مهال د علومو اکاډمۍ د عالي شورا له تائید او تصویب وروسته د موضوع په څېړنې لاس په کار شوې وه. د څېړنې د یوې برخې له بشپړولو وروسته څېړونکې د دولت د لزوم دید له مخې د وخت د جلالتماب ولسمشر د فرمان په اساس په اکاډمۍ کې د علمي کادر د حقوقو په خوندیتوب سره یوې بلې دولتي دندې ته ګومارل شوې وه (د موضوع تفصیل څېړونکې په خپله سریزه کې راوړی دی) او چې کله یې په هغه بله اداره کې د دندې او مکلفیت تر پای ته رسېدو وروسته د جلالتماب ولسمشرـ په فرمان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو انستیتوت کې په علمي غړیتوب سره بیا خپل امتیازات ترلاسه کړل، دا چې څېړونکې په دغه تېره موده کې د خپلې څېړنیزې پروژې شپېته سلنه کار بشپړ کړی و، د پاتې ۴۰ سلنې کار د بشپړولو لپاره د علومو اکاډمۍ د علمي شورا په تایید او تصویب د وروستي ځل لپاره نیمه دوره تمدید ورکړل شو، خو دا مهال څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار له دندې تقاعد شوی و او د وجود د کمزورۍ له امله یې د دې علمي

څېړنيـزي پـروژې د لارښـوونيزو چـارو د سرتـه رسـولو معـذرت وغوښـت، د پښـتو ادبيـاتو انستيتوت په وړانديز او د علومو اکاډمۍ د علمي شورا په تاييد او تصويب د دې علمي ـ څېړنيزې پروژې د لارښوونې چارې رسماً ماته راوسـپارل شـوې، څېړونکـې خپـل د مخـه ترسره کړی کار د کتنې لپاره راوسـپاره او د نـور پـاتې کـار د بشـپړولو لپـاره يـې متـې را ونغښتې چې دا دی هغه يې د تمديد پـه مـوده کـې د ټـاکلو مفرداتـو لـه مخـې زمـا پـه لارښوونه په دې ډول بشپړه او دفاع ته چمتو کړې ده:

تر سريزې وروسته چې پکې د موضوع اهميت، مبرميت او د څېړنيـزو چـارو د تـرسره کېدو څرنگوالی بيان شوی، په لومړي څپرکي کې د موضوع شـاليد بيـانوي، د موضـوع په اړه دمخه شوي کارونه د تحليلي کره کتنې په ترڅ کې ارزوي او د خپـل تـرسره کـړي کار بشپړوالی او کره والی زباتوي.

دويم څپرکی چې ((د لنډې کيسـې د پيدايښـت څرنگـوالی)) موضـوع تـه ځـانگړی شوی، د لنډې کيسې د هر اړخيزې پېژندنې تر څنگ لومړی پـه نړيـوال ادب او بيـا پـه پښتونخوا کې د پښتو لنډې کيسې د پيل او دوام په بېلا بېلو پړاوونو کې څېړي.

دربيم څپرکی يې د لنډې کيسې ځانگړنې موضوع ته بېل کړی چې هم يې فني او هم جوړښتي ځانگړنې تر بېلا بېلو سرليکونو لاندې ښوولي، له نورو نثري او ادبي ژانرونو سره يې توپيرونه او د بحثونو په وروستۍ برخه کې يې د لنډې کيسې معيارونه په گوتـه کړي او دا يې هم ارزولي چې د پښتونخوا پښتو لنډې کيسې تر کومې کچـې د کيسـو په منلو معيارونو پوره دي.

په څلورم څپرکي کې د پښتونخوا د لنډې کيسې ليکنې ځينې وتلي او منلې څېرې راپېژني او لوستونکي په بېلا بېلو پړاوونو کې د غوره کيسه ليکوالو او د هغو له آثـارو سره اشنا کوي.

پنځم څپرکی چې ((په پښتو لنډو کيسو کې سمبولونه)) موضوع ته ځانگړی شـوی، په پښتونخوا کې د سمبوليکو لنډو کيسو بهير هم بيـانوي، د دغـه ډول کيسـو نوميـالي ليکوال هم راپېژني. په غوره سمبوليکو کيسو کـې د سـمبولونو پـر موضـوع ژور تحلـيلي بحثونه هم کوي.

په شپږم څپرکي کې په پښتونخوا کې د لنډو کيسـو د ژبـاړې بهيـر تشرـيح شـوی او نورو ژبو ته د پښتو ژباړل شويو لنډو کيسو او له نورو ژبو څخـه پښـتو تـه د را ژبـاړل شـوو

لنډو کیسو په څرنګوالي او څومره والي په زړه پورې څېړنه او سپړنه د تحلیلي څرګندونو په ترڅ کې شوې ده.

په وروستي (اووم) څپرکي کې (د پښتو لنډو کیسو تحلیل او څېړنه) ترسره شوې چې په جلا جلا بحثونو کې یې په پښتو لنډو کیسو کې ارواپوهنه، سیاست، طنز، مینه، د ښځو څېره، بېلا بېل ټولنیز او فولکلوري مسایل د لنډو کیسو په ډېرو غوره او زړه پورې بېلګو کې تحلیل شوي دي. څېړونکې خپله څېړنه د پایلې، وړاندیزونو او د اخځلیکونو د لیکلړ په را وړلو سره پای ته رسولې ده.

په لومړیو کې، هغه مهال چې د دې څېړنیزې پروژې لاربنوونه رسماً را سپارل کېده، د موضوع پراخوالي، هر اړخیزوالي ترڅنګ یې له مسلکي او علمي دندې څخه د څېړونکې دلیرې پاتې کیدو او د تمدید د مودې کمښت ماته دا اندېښنه را ولاړوله چې ښایي زما په لاربنوونه څېړونکې ته د دې علمي ـ څېړنیزې چارې په بشپړولو کې لږ ډېر خنډونه او ستونزې را مخې ته شي، خو د څېړونکې دمخه ترسره کړي کار په کتنه چې د هغوی د پراخې مطالعې او په څېړنه کې د ښه استعداد او تجربې استازیتوب یې کاوه، زما ټوله اندېښنه په ډاډ بدله کړه او د هغې پایله دا شوه، سره له دې چې څېړونکې د علمي مکلفیت له مخې د تمدید په موده کې د یوې داسې پراخې موضوع سپړنه ور تر غاړې وه چې د مخه یې په پښتو ژبې او ادب کې د هر اړخیزې څېړنې او سپړنې لپاره په تیوریکي او عملي لحاظونو ډېرې پوره او کره د قناعت وړ څېړنې او لیکنې نه دي شوي، لږ او خورې ورې لیکنې او څېړنې د مقالو او ټولګو په بڼه موجودې وي چې هغو په هېڅ شان نه د موضوع څېړنیز حق ادا کولی شو او نه یې هم د ادب د زده کوونکو، څېړونکو او عامو مینه والو تنده خړوبولی شوه، خو آغلې څېړونکې د موضوع په اړه د پراخې مطالعې، باوري سرچینو او ادبي آثارو ته په لاسرسي سره د پښتونخوا د لنډې کیسې د ودې د بهیر او نورو اړوندو موضوعاتو په څېړنه کې ور نه مناسبه ګټه واخیسته، ما په دې لړه موده کې چې د دې علمي ـ څېړنیزې پروژې لاربنوونه مې کوله، دا احساس کړه چې څېړونکې د موضوع په اړه د سرچینو او معلوماتي منابعو په ترلاسه کولو کې څومره ستونزې او کړاوونه وګالل، دوی ته د پښتونخوا د پښتو لنډې کیسې په سل کلن پرمختیایي بهیر(چې د افغانستان پښتو لنډې کیسې په پرتله څو برابره زیات دی) هر اړخیزه څېړنه او سپړنه ور ترغاړې وه، د

هغې هر اړخیزه مطالعه او د لنډې کیسې له سلګونو ټولګو او بېلګو څخه د خپلې څېړنې د اړوندو موضوعاتو په اړه د بېلګو را خوښول او تحلیل څه اسانه کار نه و او خامخا به یې ډېرې ستونزې او کړاوونه ګوښتل، خو څېړونکې هغه پر ځان منلي او په پوره حوصله مندۍ یې زغمل چې له برکته یې خپله څېړنیزه چاره په بري ترسره کړې او دا دی اوس یې د دفاع تر درشله هم را رسولې ده.

زه د لارښود استاد په توګه دا تایید او تصدیق کوم چې څېړونکې د څېړنیزې چارې د سرته رسولو لپاره ګام پر ګام زما په لارښوونو او سپارښتنو عمل کړی، کوم بدلونونه او سمونونه چې هر ځل د کتنې پر مهال په نښه کړي او ورښودلي دي، په پوره غور یې په پام کې نیولي او تر سمون او بدلون وروسته یې یو ځل بیا زما له نظره تېر کړي دي چې زه یې په دې لار او چار کې د زغم، حوصلې، زیارګالنې مننه او ستاینه کوم. د لارښود استاد په توګه د دې علمي ـ څېړنیزې پروژې د منځپانګې او بڼې ځینې ځانګړنې داسې په ګوته کوم:

ــ څېړونکې د څېړنې د اکاډمیکو اصولو له مخې دا پراخه موضوع په لویو، منځنیو او څنګزنو سرلیکونو باندې په داسې مناسبه توګه وېشلې چې د هرې برخې د اړوندې موضوع په پېژندنې، شننې او لازمو توضیحاتو په ورکولو یې د هغې څېړنیز حق پوره ادا کړی دی.

ـــ په موضوع پورې د اړوندو مسایلو د وړاندې کولو په چاره کې بریالی، استدلالونه او څرګندونې یې مسلکي او علمي دي، ښه منطقي تسلسل لري.

ـــ له معاصرو څېړنیزو او اکاډمیکو اصولو سره سم یې د نویو او باوري سرچینو څخه په استفادې سره خپله څېړنه بشپړه کړې ده.

ـــ اخځلیکونه او معلوماتي سرچینې یې لومړی په لمنلیکونو او بیا په ټولیز ډول د کتاب په پای کې د مأخذ ښودنې له اصل سره سم راوړې دي.

ـــ د موضوعاتو په څېړنه او سپړنه کې یې زیاتره له تشریحي میتود څخه کار اخیستی، خو کله کله یې د اړتیا له مخې د موضوعاتو په تحلیلولو کې کره کتنیز (انتقادي) میتود هم کارولی دی.

ـــ د لیکنې سبک یې روان، ساده او د عامه پوهاوي وړ دی، لفظي او معنوي کړکېچونه نه لري.

د دې پورته یادونو په پایله کې زه د لارښود استاد په حیث د آغلې غوټۍ خاورې دغه څېړنیزه پروژه په علمي او مسلکي لحاظ پوره او مثبته ارزوم، لـه څېړنـدوی علمـي رتبـې څخه د څېړنوال پوړ ته د لوړاوي مستحقه یې بولم او د لوی څښتن تعالی جل جلاله په دربار کې ورته د لا زیاتو علمي او فرهنگي پرمختیاوو هیله کوم، د دې لپاره چې لـه دې اثره معنوي گټه اخیستنه عامه شي، د علومو اکاډمۍ، د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز تـه یـې د چاپ او خپراوي سپارښتنه کوم.

په درنښت

**څېړنپـوه دوکتور سید محی الدین هاشمي**

**د افغانستان علومو اکاډمي، د دایرةالمعارف مرکز**

**۱۳۹۷ لمریز کال، د لړم شلمه**

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۱۳۹۷/۱۰/۳ نېټې د ۸۲۴/۸۲۸ ګڼه لیک پـه ملتیـا د دغـه مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو د انستیتوت د علمي غړې څېړندویې غوټۍ خـاورې علمـي- څېړنیز اثر ((په پښتونخوا کې پښتو لنـډه کیسـه)) ماتـه د تقـریظ لیکلـو لپـاره راسـپارل شوی و چې په اړه یې داسې نظر څرګندوم:

تر کومه ځایه چې ماته څرګنده ده، څېړنپوه نورمحمد سهیم په شپېتمو کلونو کې د پښتو لنډو کیسو په اړه دوه اثره ((په پښتو لنـډو کیسـو کـې ریالیسـتي افکـار)) او ((پـه افغانستان کې پښتو لنډه کیسه)) کښلي دي، لومړی اثر عام دی، یعنې د لـرې او بـرې پښتونخوا کیسې په ځان کې رانغاړي او دویم اثر یواځې د هغو پښتو لنډو کیسو څېړنې ته ځانګړی شوی چې په افغانستان کې لیکل شوي دي، خو باید ووایم چې د پښتونخوا لنډې کیسې لا تر اوسه په هېواد کې د ځانګړې علمي- څېړنیزې پروژې په توګه نـه وې څېړل شوې، له نېکه مرغه د دغې برخې څېړنـه د پښـتو انسـتیتوت لـه خـوا څېړنـدویې غوټۍ خاورې ته وسپارل شوه چې دا دی د څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي تر نظر لاندې یې بشپړه او ثمر ته ورسوله.

دغه اثر پر سریزې سربېره اووه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لـري. په سریزه کې له معمول سره سم، لیکـوالې لـه مقـدماتي خـبرو وروسـته د خپـل کـار پـر څېړندود، د موضوع پر مبرمیت او هدف خبرې کړې او د اثـر د لنـډې پېژنـدنې پـه تـرڅ کې یې د هغو خنډونو، ځنډونو او بوختیاوو لنډه یادونه کـړې چـې د دې اثـر د کښـلو او بشپړولو پر مهال ورسره مخامخ شوې وه.

د دې اثر په لومړي څپرکي کې د موضوع په شالید باندې له لنډ بحث نـه وروسـته هغه (۱۲) اثره چې په دې څېړنه کې ترې ډېره استفاده شوې او لیکوالې ته مهم ښکاره شوي، لنډ لنډ معرفي کړي او د اړتیا پر مهال کره کتنه هم ورباندې شوې ده.

په دویم څپرکي کې د لنډې کیسې د پیدایښت او پایښت په څرنګوالي خبرې شوي چې په ترڅ کې یې د لنډې کیسـې پـر پېژنـدنـه سربېـره، پـه نړیـوال ادب کـې د لنـډې کیسې د رامنځ ته کېدو او نورو موضوعاتو له څېړنې وروسته بالاخره پښتونخوا تـه د اردو

ادب له لارې د لنډې کیسې د راتګ موضوع په تفصیل سره څېړل شوې او لیکواله دې پایلې ته رسېدلې چې د پښتو لومړنۍ لنډه کیسه ((کونډه نجلۍ)) په ۱۹۱۷ کال استاد راحت زاخېلي لیکلې ده، د یادونې وړ ده چې د پښتونخوا د لیکوالو د وېش یا ډلبندۍ پر بنسټ د لنډو کیسو په درې ګونو پړاوونو هم لازم بحثونه شوي دي.

د دې اثر په دریېم څپرکي کې د لنډې کیسې پر ځانګړنو خبرې شوې او پردې سربېره له نورو معاصرو نثري ادبي ژانرونو، لکه: طنز، ادبي ټوټه، ناول او نورو سره یې توپیرونه او اړیکې ښودل شوې دي.

څلورم څپرکی په لره پښتونخوا کې د پښتو لنډو کیسو د ځینو نومیالیو څېړو پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. په دې څپرکي کې د پښتونخوا د لنډو کیسو د درېواړو پړاوونو لیکوال معرفي او د کیسو بېلګې یې راوړل شوې او اړین بحثونه وربانديې شوي دي.

د رسالې پنځم څپرکی ((په لنډو کیسو سمبولونه)) موضوع څېړنې ته ځانګړی شوې ده، لومړی سمبول په هر اړخیزه توګه څېړل شوی او دا خبره څرګنده شوې چې په ادبیاتو او په ځانګړې توګه په کیسو کې سمبول په کوم مفهوم کارول کېږي، لیکوالې د خپلې څېړنې په ترڅ کې د څو بېلابېلو لیکوالو سمبولیکې کیسې هم د بېلګې په توګه راوړې او تحلیل کړې دي.

په شپږم څپرکي کې چې سرلیک یې دی: ((له پښتو څخه نورو او له نورو ژبو څخه پښتو ته ژباړل شوې کیسې)) لیکوالې لومړی په ژباړه، د ژباړې په اهمیت او ډولونو مفصلې خبرې کړي، بیا یې د کیسو ځینې ژباړونکي معرفي کړي او د هغو د ژباړلو کیسو بېلګې یې هم راوړې دي که چېرې د دې ژباړو د څومره والي ترڅنګ یې په څرنګوالي هم بحث کړی وای، دا څېړنه به لا پسې غني شوې وای.

د دې اثر د وروستي یعنې اووم څپرکي سرلیک دی: ((د څو پښتو لنډو کیسو تحلیلي څېړنه)) په دې څپرکي کې لومړی د کیسو موضوعي وېش باندې خبرې شوې او ور پسې د بېلابېلو موضوعګانو، لکه: رواني، سیاسي، طنزیه، مینې، ټولنیزو مسایلو، فولکلور، اصطلاحاتو او نورو په اړه د لیکل شوو کیسو بېلګې راوړل شوې او د معتبرو آثارو په مرسته په تفصیل سره څېړل شوې او خپل تحلیل یې هم ورسره ملګری کړی دی.

دغه اثر په پایلې او وړاندیزونو پای ته رسېدلی او په پای کې یې د هغو مأخذونو لیکلړ راغلی چې د دې اثر په بشپړولو کې ورڅخه استفاده شوې ده.

لیکوالې د اثر پایله په دوو برخو بېله کړې ده، لومړی یې د هر څپرکي نچوړ او پایله وړاندې کړې او په پای کې یې یوه عمومي نتیجه تر لاسه کړې ده.

د پورتنیو او دې ته ورته نورو ښېګڼو د یادونې په پایله کې په ډېر لنډیز سره خپل نظر داسې څرګندوم:

- د اثر د لیکنې ژبه روانه ده او پېچلتیا په کې نه لیدل کېږي.

- لیکوالې هڅه کړې چې تر ډېره بریده د لهجې له قیده ځان خلاص او ادبي ژبه وکاروي.

- د لیک نخښو په کارولو او مراعاتولو کې چې ډېر دقت ته اړتیا لري، تر ډېره بریده بریالۍ برېښي.

- دغه اثر چې ټول په ۳۰۴ (A٤) مخونو کې کښل شوی دی او له ۸۴ بېلابېلو مأخذونو څخه په کې ګټه اخیستل شوې ده، حتی آغلې لیکواله تر دې بریده مأخذونو او منابعو ته په اهمیت قایله ده چې ټولې خبرې یې د مأخذونو پر بنسټ ولاړې دي او بې مأخذه خبره یې نه خوښېږي.

- د دې اثر د څېړنې میتود تشریحي دی، خو د اړتیا پر مهال پکې له تحلیلي او انتقادي میتودونو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده چې د انتقاد ښه بېلګه یې د دې اثر په وړاندیزونو کې لیدل کېږي.

- په دې اثر کې که څه هم لیکوالې د څېړنې د اړتیا له مخې له مستقیمو او نامستقیمو نقل قولونو څخه زیاته استفاده کړې ده، خو غوره خبره دا ده چې په دواړو حالتونو کې یې د مأخذ ښودنې آرونه له پامه نه دي غورځولي، زه دا یوه اړتیا ګڼم، نه د اثر نیمګړتیا.

- په رساله کې املایي او انشایي تېروتنې نه تر سترګو کېږي او د موضوعاتو په څېړنه کې منطقي تسلسل له پامه نه دی غورځول شوی، نورې خپلې خبرې نه اوږدوم او خپل وروستی نظر داسې څرګندوم:

که چېرې لیکوالې د علمي ترفیع نور اړوند شرطونه بشپړ کړي وي نو د پورتنیو او دې ته ورته ښېګڼو په لرلو سره زه د څېړندویي غوټۍ خاورې دغه علمي ـ څېړنیز اثر

مثبت ارزوم او د څېړندوی له علمي رتبې څخه یې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړېدو وړاندیز کوم او د ستر څښتن تعالی جل جلاله له درباره ورته په نورو علمي- څېړنیزو او فرهنګي چارو کې د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله لرم.

په درنښت

**څېړنپوه نصرالله ناصر**

**د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت غړی**

۱۳۹۷/۱۱/۷

# تقریظ

((په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه د نظر په پلوشو کې))

د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۸۲۵/ ۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ نېټې مکتوب په ځواب کې:

((په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه)) د هغې علمي- څېړنېزې پروژې نوم دی چې د آغلې څېړندوی غوټۍ خاورې له خوا د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړېدو په هیله کښل شوې ده او په اووه څپرکو او پریمانه څنګیزو سر لیکونو کې ټوله منځپانګه د لرې پښتونخوا لنډې کیسې پېژندنې، ارزونې او د ښکلاییزو اړخونو ښودنې ته وقف کړې ده.

د کتاب محتویاتو ته په کتنه داسې برېښي چې که څه هم په اړونده موضوع کې نه یواځې په بره، بلکې په لره پښتونخوا کې هم د یادونې وړ ډېر بنسټیز کارونه تر سره شوي، لکه د گل افضل خان اثر (د افسانې افسانه، یوه تاریخي، تنقیدي او تکنیکي مطالعه) چې عمده موضوع یې افسانه او د افسانې ارتقا او د افسانو د سترو لیکوالو پېژندنه ده، د پروفیسور محمداعظم اعظم اثر (پښتو افسانه تحقیق او تنقید) چې عمده موضوع یې د ولسي کیسو پر پېژندنې سربېره د پاکستان له آزادۍ نه وروسته پښتو لنډو کیسو د ځرنگوالي څېړنه ده، د پروفیسور جهانزیب نیاز او پروفیسور محمدافضل رضا له خوا په گډه تدوین شوی اثر (د پښتو افسانې انتخاب) دی چې د پېښور پوهنتون، د پښتو څانگې د ماسټرۍ دورې د زده کړیالانو د تدریس په موخه د پښتو لنډو کیسو یو غورچاڼ دی، د عظمت هما اثر (اردو اور پشتو کې نماینده افسانې تقابلي جایزه) چې پکې په اردو ژبه د پښتو لنډې کیسې له اردو لنډو کیسو سره پرتله شوي دي، دغه راز د ډاکټرې انیتا اعظم د دوکتورا تېزس (د پښتو په افسانوي ادب کې د ښځې اولسي مقام او کردار) چې پکې په ولسي کیسو کې د ښځو د مقام او ځای ځایگي په څېړلو سربېره په لره پښتونخوا کې د پښتو لنډو کیسو پر دویم او درېیم دور باندې هم مفصله څېړنه لري او تر ټولو اهم د پروفیسور اسیر منگل لیکلی اثر د ( پښتو افسانې سل کلن بهیر له ۱۹۱۷م څخه تر ۲۰۱۲ م پورې) چې په ابتدا کې په اردو ژبه لیکل شوی، وروسته بیا

په پښتو ژبه ژباړل شوی او په ۲۰۱۳ کې د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپور شوی دی او داسې نور.

په همدې ډول په بره پښتونخوا کې هم نه يواځې د افغاني پښتو لنډو کيسو په اړوند زيات تيوريک او انتقادي آثار ايجاد شوي، بلکې د لرې پښتونخوا پر داستاني ادب په تېره بيا لنډو کيسو باندې ځينې د ګوتو په شمار مفصلې څېړنې هم تر سره شوي، لکه د زرين انځور (پښتو معاصر داستاني ادبيات) چې پکې د لرې او برې پښتونخوا لنډو کيسو ته تاريخي او انتقادي کتنه شوې ده.

په همدې ډول (د پښتونخوا داستاني ادبيات) چې د سرحدونو چارو وزارت د خپرونو رياست له خوا په ۱۳۷٦ لمريز کال د پښتونخوا پر داستاني ادبياتو باندې د جوړ شوي علمي- څېړنيز سيمينار يوه ښکلې ټولګه ده چې په کې نه يواځې د لرې پښتونخوا د داستاني ادبياتو پر سبک او ليکدود باندې ښکلې خبرې لري، بلکې د همدغې جغرافيې اړوند د اوسني داستاني ادب پر څرنګوالي، رواني مسايلو، طنزي خواوو، موضوعي ځانګړنو، د پښتونخوا د داستاني ادبياتو پر بهرنيو ژباړو، د خدايي خدمتګارو غورځنګ په خپرونو کې د پښتو کيسه ليکنې د څرنګوالي په اړوند خوندورې مقالې راغلې دي.

په همدې ډول د دې کرښو ليکوال هم (په پښتو لنډو کسو کې رياليستي افکار) تر سر ليک لاندې په ۱۳٦۵ کې يو علمي- تحققي اثر ليکلی او د کابل درنې مجلې له لارې يې خپور کړی دی چې پکې د لرې او برې پښتونخوا د داستاني ادبياتو په تېره بيا اوسنيو لنډو کيسو ته تاريخي او انتقادي نظر شوی دی او په دې سربېره د لنډې کيسې ځانګړنې، معيارونه او تکنيکونه يې هم له پامه نه دي غورځولي او د لر او بر پښتو اوسنيو لنډو کيسو يو زيات شمېر بېلګې يې د کره کتنې په هنداره کې ارزولې او وړاندې کړې دي.

دا دی له ښه مرغه آغلې غوټۍ خاورې په دې بريالۍ شوې ده چې د پښتو داستاني ادب د لا زرغونتيا په هيله ((په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه)) تر سرليک لاندې يو بل په زړه پورې اثر وليکي او وړاندې يې کړي، په واقعيت کې دغه اثر ته د لرې پښتونخوا پر داستاني ادبياتو په تېره بيا د پښتو لنډې کيسې پر بېلابېلو اړخونو باندې د يو اختصاصي دايرةالمعارف په شان، د يو داسې جامع کتاب نوم ورکولای شو چې نه

يواځې په اړونده برخه کې په پښتونخوا کې د لنډې کيسې په باب تر سره شوي کارونه ځلوي او ويړه استفاده ترې کوي، بلکې ځينې تازه رڼاوې هم پرې اچوي، ټول تياره ګوټونه يې را برسېره کوي او د لوستونکو او مينه والو تقريباً ټولې پوښتنې حلوي، د ساري په ډول: که چېرې کوم لوستونکی په پښتو لنډو کيسو کې د مينې له موضوعاتو سره مينه ولري، نو دغه اثر ته په مراجعه نه يواځې په خپله د مينې د تعريف او پېژندنې په اړوند معلومات تر لاسه کولای شي، بلکې په لنډو کيسو کې د هغې ځرګندې بېلګې هم مطالعه کولای شي، په همدې ډول که چېرې په پښتو لنډو کيسو کې ځوک لوستونکی د ارواپوهنې (سايکالوژي)، طنز، ټولنيزو موضوعاتو، د ښځو د ژوند په اړوند، د ټولنيزې همدردي، خوا خوږي، ټولنيزو پښتني دودونو، فولکلوريکو موضوعاتو، په لنډو کيسو کې د متلونو، محاورو او لنډيو د راوړلو په اړوند موضوعاتو، په لنډو کيسو کې له سمبولونو ځخه ګټه اخيستنې، همدغه راز سياسي موضوعاتو، له پښتو ځخه نورو ژبو او له نورو  هغو ځخه پښتو ته د را ژباړلو لنډو کيسو او په خپله د ژباړې د ښېګڼو په اړوند معلوماتو، په لره پښتونخوا کې د لنډې کيسې د ځينو قديمو او نويو مجربو ليکوالو پېژندنې او د هغو د لنډو کيسو له بشپړو بېلګو او داسې نورو موضوعاتو سره مينه ولري، نو دغه کتاب تر زياته حده د دوی تنده ماتولی شي او ښايي يادونه وشي چې د دې اثر دغه جامعيت او په کې د دغو ټولو موضوعاتو په اړوند د زياتو ليکوالو د يوې يا دوو بشپړو لنډو کيسو را وړل او د مأخذونو په استناد د راوړل شويو لنډو کيسو ارزول او په دې سربېره نه يواځې په نړيواله سطح د لنډې کيسې د پيدايښت، ودې او پرمختيا او په دې ترڅ کې پښتو ادبياتو ته د دغه خوندور ادبي ډول (لنډې کيسې) د راتلو د ځرنګوالي او په همدې بهير کې د زياتو پښتو ادبپوهانو او ځېړونکو آثارو ته په مراجعه د پښتو لومړنۍ لنډې کيسې د ايجادګر ليکوال، معلوملو اوږد او جنجالي بحث د دغه اثر کچه زياته کړې ده.

زما په نظر لکه ځنګه چې په دې اثر کې هم ورته نغوته شوې ده، د لنډې کيسې يو عمده تعريف ((لنډون)) دی او دغه تعريف هم ځکه ورته حتمي بلل شوی دی چې د اوسني عصر چې د پرمختللي تخنيک عصر يې بولي، د رنګا رنګ نويو غوښتنو او دغه راز د نړۍ د نفوسو د ورځ په ورځ زياتو او په همدې ډول د روزي پيدا کولو لپاره د خلکو د هڅو د پراخوالي له امله د مطالعې شوقمن ته دا موقع نه ده پرېښې چې په يو لنډ،

تنګ وخت کې له غټو داستا نونو او ناولونو څخه ګټه پورته کړي، نو ځکه د لومړي ځل لپاره په لوېدیځ کې د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د ادګارآلن پو (۱۸۰۹- ۱۸۴۹م) او ګوګول (۱۸۰۹- ۱۸۵۲م) په شان ځینې لیکوال په دې لټه کې شول چې د ځینو تکنیکونو په وضع کولو سره، د لنډې کیسې په نامه یو نوی ژانر باب کړي. په واقعیت کې ویلای شو چې د لنډې کیسې له ایجاد څخه د یادو لیکوالو عمده هدف نه یوازې د ژوند له اوږدو داستانونو څخه په یو لنډ وخت کې ګټوره استفاده وه، بلکې د لوستونکو د وخت سپما هم وه او د زمانې په تېرېدو سره ورو ورو خبره تر دې ځایه را ورسېده چې ځینې کیسې تر یو پراګرافه پورې را لنډې شوې، آن تر دې چې ځینو معروفو خلکو به په موټر کې د درېدو په حال کې هم مطالعه کولای شوای او خوند به یې ځنې اخیستلای شوای، نو له همدې امله کېدای شوای د دې اثر په لیکلو کې هم د بحث یو څه لنډون، په پام کې نیول شوی وای، خو زما په خیال آغلې لیکوالې د پښتو لنډو کیسو په ایجاد کې د لومړیتوب حق ورکولو پر سر ځکه بحث اوږد کړی دی چې په دې اړوند یې د بېلابېلو لیکوالو د مختلفو ادعاګانو په اړوند، د هغوی د څرګندونو د څرنګوالي په را اخیستنه سربېره د هغو کیسو بشپړې بېلګې هم را اخیستي چې په پښتو ادب کې لومړنی ایجاد بلل شوی دی او د ثقه مأخذونو په استناد یې له تکنیکي او معیاري ارزونې وروسته دا ښودلې ده چې د کوم لیکوال، کومه کیسه د نورو په نسبت په تول پوره ده او د لومړیتوب حق لري او په دې توګه یې د دغې مشاجرې لمن ټوله کړې ده.

په پایله کې ویلای شو چې په دې اثر کې هم، په لره او بره پښتونخوا کې د یو زیات شمېر نورو لیکوالو او څېړونکو په شان، په پښتو داستاني ادب کې د لنډې کیسې د پنځولو د ډګر، د لومړیتوب ویاړ د کوزې پښتونخوا درانه لیکوال سید راحت زاخېلي (۱۸۸۴- ۱۹۶۳م) ته ورکړی شوی دی چې لومړی پلا یې په (۱۹۱۷م) کې د (کونډه نجلۍ) په نامه لنډه کیسه وکښله او په دې نوښت سره یې د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د لوېدیځ د ۱۹ پېړۍ د نیمایي څخه را پیل شوي، یو ډېر مهم ادبي ژانر (لنډې کیسې) د رواجولو او کوربه کولو ویاړ تر لاسه کړی دی.

په دې څرګندونو سربېره دا هم د یادولو وړ بولم چې زما د غوښتنې له مخې آغلې لیکوالې د دغه اثر د لا ښکلا په خاطر د دغه کتاب یو محدود شمېر اضافي څرګندونې

هم ليرې کړې دي چې کور ودانۍ ورته وايم، خو په ټوليز ډول، له دې واقعيت څخه انکار نه شي کېدای چې د دې کتاب په ليکلو کې زيات زيار ګالل شوی دی او له زياتو ښو او معتبرو مأخذونو څخه په کې استفاده شوې ده او لويه ښېګڼه يې دا ده چې په ډېر ساده، روان او بې غوټو نثر کښل شوی او په ساده ګي کې ښکلی او خوږ راغلی دی.

د ليکنې ميتود يې تر زياته حده پورې تشريحي دی، خو کله کله په کې د اړتيا له مخې موضوعاتو ته په انتقادي نظر کتل شوي دي او په تشريح او انتقاد دواړو کې پر مأخذونو تکيه لري.

پوره باور دی چې دغه اثر به نه يواځې د داستان او داستاني ادبياتو د عامو مينه والو لپاره د معلوماتو يوه لويه سرچينه وي، بلکې د ځوانو څېړونکو لپاره به هم د يو غوره او باوري مأخذ په توګه پاتې وي.

د پورتنيو ښېګڼو په پام کې نيولو سره زه دغه کتاب مثبت ارزوم او د څېړندوی علمي رتبې څخه د څېړنوالۍ رتبې ته د لوړېدو لپاره يې بالکل کافي بولم او آغلې ليکواله د ترفيع مستحقه ګڼم، نه يواځې خپله موافقه څرګندوم، بلکې هغې ته مبارکي وايم او په راتلونکې کې يې د لوی خدای جل جلاله له درباره د علمي – تحقيقي ښو آثارو د پنځونې په ډګر کې د لا نورو زياتو برياليتوبونو هيله کوم او له اړوندو خپرنيزو مراجعو څخه هم هيله کوم چې د دې اثر د چاپ امکانات په پام کې ونيسي.

په درناوي

**څېړنپوه نورمحمد سهيم**

**کابل، خيرخانه مېنه**

(۱۳۹۷/۱۰/۱۰)

# تقريظ

د افغانســتان د علومــو اکــاډمي د ژبــو او ادبيــاتو مرکــز د ۱۳۹۷/۱۰/۳ نېټــې د ۸۲۶/۸۳۰ ګڼه مکتوب له مخې د څېړندوی غوټۍ خاورې علمـي – څېړنيـزه پـروژه (پـه لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه) چې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د ترفيـع پـه خـاطر يې ليکلـې ده، ماتـه د نظر ځرګنـدولو لپـاره را اسـتول شـوې ده، تـر دقيقـې ارزونـې او بشپړې کتنې وروسته يې په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوم.

داستاني ادبيات او په تېره بيا د دې ډول ادبياتو په زړه پورې ژانر (لنډه کيسه) کـې د بشري ژوند يو اړخ او انساني تجربه په اجمال سره بيانېږي او د ژوند يوه پېښه پـه کـې رانغاړل کېږي، خو په عين وخت کې د ستر مفهوم لرونکې او مهم پيغام لېږدوونکې وي.

لنډه کيسه چې اوس يې نړيوال حيثيت پيدا کړی، په پښتو ژبه او ادب کې له تېـرو کابو سلو کلونو راهيسې دود ده او تراوسه پورې يې د ليکنې لړۍ پـه پـوره مقبوليـت پـه تېره بيا پښتونخوا کې روانه ده. دا چې پـه افغانسـتان کـې د لنـډې کيسـې پـه اړه پـه اويايمو کلونو کې يوه بل څېړونکي کار کړی، نو اړتيا وه چې د پښتونخوا د لنډې کيسې جاج هم واخيستل شي.

همدغه ضرورت ته په پام سره، دا چې د لنډې کيسـې ليکنـه پـه پښـتونخوا کـې لـه پخوا راهيسې پيل او تراوسه پورې جاري ده، نو آغلې خاورې ورباندې هر اړخيـزه څېړنـه کړې ده.

د دې اثر څېړونکې په پيل کې د موضـوع د شـاليد پـه توګـه پـر دې موضـوع تـردې مخکې د تـرسره شـوي کـار ارزونـه کـړې او بيـا يـې د خپـل کـار جامعيـت ښـودلی دی، ورپسې يې پـه شـپږو نـورو څپرکـو کـې پـه ترتيـب سره د لنـډې کيسـې د پيدايښـت پـر ځرنګوالي، ځانګړنو، د لنډې کيسې ځينو څېرو، په لنډه کيسه کې سمبولونو، لـه پښـتو څخه په نورو او له نورو ژبو څخه پښتو ته د ژباړل شـوو لنـډو کيسـو او د څـو پښـتو لنـډو کيسو تحليل او څېړنه په ۳۰۴ (A٤) سايز مخونو کې د ۸۴ مأخذونو په استناد ترسره او بشپړه کړې ده.

هسې خو لنډې کیسې له یوې خوا د نثري ادب جالب او جاذب ژانر دی، له بلې خوا په دې اثر کې داسې کیسې هم د مثال په توګه راوړل شوي چې لیکوال یې له یوه پلوه د ادب له لارې خپله ذمه واري او دنده پوره کړې او له بله پلوه لوستونکي انساني عواطفو، همدردیو او همکاریو ته رابولي، په دې اثر کې ما دغه حالت احساس کړ، دغه راز لیکوالې د پښتونخوا د بېلا بېلو پړاوونو د لنډو کیسو جاج اخیستی او په اړه یې خپل تحلیلونه هم کړي دي.

په دې اثر کې څېړونکې د لیکوالۍ اړین اصول په پام کې نیولي، د تشریحي – تحلیلي مېتودونو پر بنسټ یې پروژه مخ ته وړې، معیاري ژبه یې کارولې ده، خو یوه خبره د یادولو ده او هغه دا چې کله د پښتونخوا د لیکوالو له آثارو استفاده شوې او مستقیم نقل قولونه ترې را اخیستل شوي او یا دا چې د لنډو کیسو بېلګې راوړل شوي، نو د همدې حوزې د لیکوالو لیکنۍ بڼه یې پکې ساتلې او دا چاره ښایي د یوه مجبوریت په اساس ترسره شوې وي.

دې ټولو ځانګړنو ته په پام سره، زه دغه علمي - تحقیقي پروژه بریالۍ او مثبته ارزوم چې د څېړونکې له خوا یې د نورو اړوندو شرایطو د تکمیلولو په صورت کې د څېړندوی له علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع مستحقه بولم. نوموړې ته په راتلونکي کې په علمي او فرهنګي چارو کې د بریالیتوب هیله کوم او د افغانستان علومو اکاډمي ته وړاندیز کوم چې دغه ارزښتمن اثر ته د چاپ زمینه برابره کړي چې افاده او ګټه یې عامه شي.

په درنښت

**څېړنوال محمدآصف احمدزی**

**د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي منشي**

د ۱۳۹۷هـ ش کال، د سلواغې ۹ مه

# سریزه

ادبپوهان د بنې له مخې ادبیات په نظم او نثر او د منځپانګې له مخې په دوو سترو برخو بېلوي چې یوې ته د ((تخلیقي)) ادبیاتو او بلې ته د ((څېړنیزو)) یا ((تحقیقي)) ادبیاتو نوم ورکوي، منظوم ادبیات خپل او منثور ادبیات خپل ډولونه (ژانرونه) لري، خو تر کومه چې خبره په تحقیقي او تخلیقي ادبیاتو پورې اړه لري، د یوې ژبې په تخلیقي ادبیاتو کې د ادیبانو له خوا پنځول شوی(تخلیقي) ادب، لکه: شعر او د هنري ادبي نثر بېلابېل ډولونه او په دویمه برخه کې د دغه پنځول شوي یا رامنځ ته شوي ادب په اړه د څېړونکو له خوا تحلیلي، تفسیري او تشریحي څېړنې شاملېږي.

که د هرې ژبې تخلیقي ادب وګورو، نو په هغو کې به خامخا په یوه یا بله بڼه ټولنیز، فکري، معنوي او مادي ارزښتونه او پېغامونه نغښتي وي، دغه ارزښتونه یا پېغامونه په واقعیت کې هغه موخه او غرض دی چې ادیب یې پنځوونکی دی، خو د دې لپاره چې خپل پېغام او مقصد مقابل لوري ته ژر او په اسانۍ ورسوي، په هغه کې احساس، جذبه او عاطفي خوځښت پیدا او ذهن یې د پېغام اخیستنې او یا پر مقصد او غرض ژر او ښه پوهېدنې ته متوجه او چمتو کړي، خپله موخه او پېغام د خپل تخیلي ځواک په ملتیا په خوږه او رنګینه ادبي یا هنري ژبه د شعر یا نثر په کوم معمول کالب او فورم کې وړاندې کوي، نو له همدې امله ده چې په ادبیاتو کې د شعر او نثر ځانګړي ادبي ډولونه (ژانرونه) منځ ته راغلي، وده او پرمختیایې موندلې، د ادبیاتو د تدریجي ودې، پرمختیا او پراختیا په بهیر کې له یوه ژانر څخه نور ژانرونه رازېږېدلي او ځینې چې د وخت غوښتنو، پوښتنو او د خلکو ښکلاییز ادبي ذوق ته په ځواب ویلو کې پاتې راغلي، له پامه غورځېدلي یا له منځه تللي دي او د ادیبانو د ادبي تجربو په پایله کې ځینې نوي ادبي ژانرونه او ډولونه هم منځ ته راغلي دي، په همدغو ادبي ژانرونو کې د نړۍ د ولسونو او ملتونو د خلکو ځینې نوي ادبي ژانرونه او ډولونه هم منځ ته راغلي دي، دغو ادبي ژانرونو د نړۍ د ولسونو او ملتونو د خلکو

د خپل منځي اړیکو په نتیجه کې د یوې ژبې له ادبیاتو څخه د بلې ژبې ادبیاتو ته لار موندلې، هلته پکې ادیبانو خپلې تجربې کړي، د ودې او پرمختیا پړاوونه یې وهلي دي.

د همدې پورتني دود له مخې د پښتو ژبې په معاصرو منظومو او منثورو ادبیاتو، په ځانګړې توګه په منثورو داستاني یا هنري ادبیاتو کې په اوسني مفهوم نوي ژانرونه، لکه: ډرامه، ناول، رومان او لنډه کیسه د شلمې پېړۍ له لومړیو څخه راوروسته په بېلابېلو وختونو کې دود او عام شوي چې په هغو کې لنډه کیسه هم شامله ده، په معاصر مفهوم له لوېدیځ ادبه اردو ژبې او ادب ته او له هغې نه په لږ یا ډېر اغېز منلو په پښتونخوا کې پښتو ادب ته راغلې ده.

د دغه نوي ادبي ژانر(لنډې کیسې) هر اړخیزه پېژندنه او په پښتونخوا کې د هغې ودې او پرمختیایي بهیر څېړنه زما د دې علمي ـ څېړنیزې پروژې اصلي او بنسټیزه موضوع ده.

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانګې د څېړنیزو چارو په کړنلاره او پلان کې له مخکې نه د پښتو داستاني ادبیاتو (ناول، ډرامې لنډې کیسې او...) د منثورو ادبي ژانرونو هر اړخیزه پېژندنه او په پښتو ژبه او ادب کې د هغې د ودې او پرمختیا بهیر څېړنه شامله وه، په دې لړکې د پښتو لنډې کیسې د پېژندنې او په پښتو ادب کې د هغې د پرمختیایي بهیر د څېړنې موضوع د یوې څېړنیزې اړتیا له مخې د خپل جامعیت او د حجم د زیاتوالي له امله د پښتنو د جغرافیایي قلمرو (افغانستان او پښتونخوا) پر بنسټ په دوو ځانګړو برخو بېله کړای شوې وه، لومړۍ برخه یې د څېړنوال (هغه وخت د سرڅېړونکي مرستیال) علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت یوه بل غړي څېړنپوه نورمحمد سهیم ته سپارلې وه چې په اوایمو کلونو کې یې ((په افغانستان کې پښتو لنډه کیسه)) تر سرلیک لاندې د کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي په لارښوونه تر سره او بریالۍ دفاع کړه او دا بله برخه یې چې په پښتونخوا کې د پښتو لنډې کیسې د پرمختیایي بهیر څېړنه وه، هغه یې بیا وروسته د څېړنوال علمي پوړ ته د ترفیع لپاره

ماته را وسپارله چې په پنځو کلونو کې يې د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په لاربنووونه بشپړه کړم، زه د ټاکلو مفرداتو له مخې د علمي څېړنيزې پروژې د ترسره کولو په موخه د اړوندې موضوع په باب د سرچينو په پيدا کولو او مطالعې په مقدماتي لارو چارو بوخته شوم، خو د دولت د لزوم ديد په اساس د جلالتمآب ولسمشر د فرمان په اساس د علومو اکاډمي د علمي کادر د حقوقو په خونديتوب په ۱۳۸۵د ليندۍ د مياشتې په ۲۹ مه په يو بله اداره کې په رسمي دنده وګومارل شوم، سره له دې چې ما د نوې دندې د مکلفيتونو تر څنګ د خپلې علمي- څېړنيزې پروژې د ترسره کولو لپاره هاند او هڅې جاري وساتلې، خو دا چې له علومو اکاډمي څخه بهر راسپارل شوې دندې ديارلس کاله دوام وکړ او ما يواځې په دغه اوږده موده کې د خپلې څېړنې شپېته سلنه چارې په ډېر مشکل بشپړې کړای شوې، کله مې چې د جلالتمآب ولسمشر محمداشرف غني د فرمان په اساس په علومو اکاډمۍ کې بيا په علمي غړيتوب سره خپل کادري حقوق او امتيازات ترلاسه کړل، نو د علومو اکاډمۍ د علمي شورا د پرېکړې له مخې د پاتې څلوېښت سلنه کار د بشپړولو لپاره نيمه دوره تمديد راکړل شو او د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار پرځای چې دمخه يې تقاعد کړی او د فزيکي کمزوري له امله يې زما د لاربنووونې له چارو معذرت وغوښت، نو څېړنپوه دوکتور سيد محی الدين هاشمي ته زما د پروژې د لاربنووونې چارې وسپارل شوې چې دا دی د هغوی په لاربنووونه مې د ټاکلو مفرداتو له مخې د خپلې علمي– څېړنيزې پروژې چارې په اوو څپرکو کې په لاندې ډول ترسره کړې:

لومړي څپرکی د موضوع شاليد ته ځانګړی شوی چې پکې د موضوع په اړه دمخه ترسره شوي کار جاج اخيستل شوی او د هغو لنډه ارزونه هم شوې ده، دويم څپرکی ((د لنډې کيسې د پيداښت څرنګوالی)) دی چې په ترتيب سره پکې لومړی د لنډې کيسې پېژندنه راغلې او ورپسې تر څنګزنو سرليکونو لاندې د لنډې کيسې د پيدايښت په ضرورت او اهميت بحث شوی او بيا په تفصيل سره لومړی په نړيوال ادب کې د لنډې کيسې بهير او ورپسې په لره پښتونخوا کې د لنډې کيسې د پيلامې او ادامې بهير په دربوو پړاوونو کې: د لنډې کيسې لومړی بهير (پړاو)

(۱۹۱۷- ۱۹۴۷) د لنډې کیسې دویم پړاو (۱۹۴۷- ۱۹۸۲م)، د لنډې کیسې درېیم پړاو (۱۹۸۳- ترننه) تشریح شوی او په دغو پړاوونو کې د پیاوړو کیسه لیکونکو او د هغوی د چاپ شوو غوره کیسو بېلګو او ټولګو د نومونو یادونه شوې ده، همدارنګه تر یو ځانګړي سرلیک لاندې په پښتونخوا کې د لنډې کیسې د بهیرونو د وېش کره کتنه او ارزونه هم شوې ده.

د درېیم څپرکي سرلیک ((د لنډې کیسې ځانګړنې)) دی چې پکې د لنډې کیسې د تیوری په رڼا کې لومړی په عامو ځانګړنو، بیا په فني جوړښتي ځانګړنو د بحث په ترځ کې د لنډې کیسې رغنده توکي هم ښودل شوي او له ځینو نورو ژانرونو (ناول، ډرامې، ادبي ټوټې، ادبي راپورتاژ) سره یې توپیرونه ښودل شوي دي، د لنډې کیسې بېلابېل معیارونه هم په ګوته شوي او په پای کې پر دې موضوع مفصل بحث شوی چې پښتو لنډې کیسې له دغو معیارونو سره برابرې لیکل شوي که نه؟

د پښتونخوا د لنډې کیسې په درېواړو پړاوونو کې د لنډو کیسو د معیارونو هر اړخیزه ارزونه شوې او په ترځ کې یې د ځینو کیسه لیکوالو معیاري او نامعیاري (غوره او ناغوره) کیسو او ټولګو نومونه د بېلګې په توګه یاد شوي او په پای کې د یوې غوره او یوې ناغوره (معیاري او نامعیاري) کیسې بشپړې بېلګې هم وړاندې شوي او بیا پر هغو تحلیلي کتنه او ارزونه هم شوې ده.

د څلورم څپرکي سرلیک ((د پښتونخوا د لنډې کیسې ځینې څېرې)) دی چې پکې د پښتونخوا کیسه لیکنې د هر پړاو ځینې پیاوړي کیسه لیکوال او د هغوی داستاني آثار پېژندل شوي دي او د هر کیسه لیکوال یوه بشپړه کیسه هم د بېلګې په توګه راوړل شوې ده، پنځم څپرکی ((په پښتو لنډو کیسو کې سمبولونه)) نومېږي چې پکې د سمبول په هر اړخیزې پېژندنې سربېره په پښتونخوا کې د سمبولیکو کیسو لیکنې بهیر څېړل شوی، بیا پنځه نومیالي سمبولیک کیسه لیکوال پېژندل شوي او د هغوی د سمبولیکو کیسو ځینې بېلګې راوړل شوي او د لنډې تحلیلي کتنې په ترځ کې یې ارزونه هم شوې ده.

شپږم څپرکی ((له پښتو څخه په نورو او له نورو ژبو څخه پښتو ته ژباړل شوې لنډې کیسې)) موضوع ته ځانګړی شوی چې پکې لومړی په پښتونخوا کې پښتو ته

له نورو ژبو څخه را ژباړل شوې کیسې او بیا نورو ژبو ته د پښتو ژباړل شوې کیسې پېژندل شوي او د دواړو ډولو ژباړلو کیسو یوه یوه بشپړه بېلګه هم راوړل شوې او ورپسې لومړی له پښتو څخه اردو ته او بیا له اردو څخه پښتو ته د ژباړل شوو کیسو د ټولګو او بېلګو لنډه تحلیلي کتنه او ارزونه وړاندې شوې ده.

په اووم څپرکي کې ((د پښتو لنډو کیسو تحلیل او څېړنه)) تر سرلیک لاندې لومړی د پښتونخوا د لنډو کیسو په موضوعي وېش بحث شوی او بیا په دې لاندې څنګزنو سرلیکونو کې په ترتیب سره پښتو لنډې کیسې او ارواپوهنه، پښتو لنډې کیسې او سیاست، پښتو لنډې کیسې او طنز، پښتو لنډې کیسې او مینه، په پښتو لنډو کیسو کې د ښځو څېره، په پښتو لنډو کیسو کې ټولنیز مسایل او په پښتو لنډو کیسو کې د فولکلور انعکاس.

د پښتونخوا د کیسه لیکوالو دلنډو کیسو په بېلګو او چاپي ټولګو کې پورتني موضوعات څېړل شوي، سپړل شوي او د هر بحث په پای کې د اړوندې موضوع په اړه یوه بشپړه کیسه د بېلګې په توګه راوړل شوې، پر هغې تحلیلي کتنه او ارزونه هم شوې ده.

په پایله، وړاندیزونو او داخځلیکونو په لیکلړ سره دغه علمي – څېړنیزه پروژه پای ته رسېدلې ده.

د څېړنې میتود

د دې اثر په لیکلو کې له توضیحي – تشریحي او تحلیلي میتودونو څخه کار اخیستل شوی او موضوعات زیاتره په توضیحي او تشریحي بڼه لیکل شوي، کله کله د موضوعاتو په تحلیل او ارزونه کې د پرتلیز او کره کتنیز (مقایسوي او انتقادي) میتودونو د کارولو اړتیا هم پېښه شوې ده.

له آثارو او سر چینو څخه د استفادې او د څېړنې د معاصرو علمي اصولو او روشونو له مخې کله چې د مستقیم نقل قول را اخیستنې اړتیا پېښه شوې، د هغو ژباړه او یاکټ مټ عبارتونه په پوره امانتدارۍ را اخیستل شوي او کله چې دا اړتیا لیدل شوې چې مطالب او مفاهیم رالنډ شي، نو هغه مې په خپلو الفاظو کې په لازم

لنډون سره بیان کړي دي، په دواړو حالتونو کې یې اخیستوځی په متن کې په شمېره په نښه شوي، لومړی په لمنلیکونو کې او بیا د اثر په پای کې په مجموعي ډول د الفبا په ترتیب د مأخذ ښودنې له اکاډمیکو اصولو او ځانګړنو سره ښودل شوي دي.

موضوعات د پروژې له ټاکلو مفرداتو سره سم څېړل شوي، خو کله کله د موضوعاتو د توضیح او تشریح په لړ کې د نورو څنګزنو سرلیکونو د راوړلو اړتیا هم پېښه شوې او ځینې واړه سرلیکونه ور زیات شوي دي.

د موضوع څېړنیز مبرمیت، اهمیت او اړتیا

د موضوع څېړنیز اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تر اوسه په پښتو ژبه او ادب کې داسې کومه منظمه او اکاډمیکه څېړنه نه وه ترسره شوې چې پکې د پښتونخوا د لنډې کیسې د پیدایښت، پایښت، ودې او پرمختیا بهیر څېړل شوی او پېژندل شوی وي، که څه هم په دې باب د مقالو او خورو ورو لیکنو په بڼه په ځینو ادبي آثارو کې په ضمني ډول ځینې لنډې یادونې او څرګندونې وې، خو د ادب څېړونکو، زده کوونکو او د مطالعې د نورو عامو مینه والو ادبي تنده یې نه شوه خړوبولی او نه یې په دې اړه پورتنیو غوښتنو ته ځوابونه ویلی شول، بله دا چې ((په افغانستان کې پښتو لنډه کیسه)) موضوع د یوې ځانګړې څېړنیزې پروژې په توګه د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو په انستیتوت کې دمخه ترسره شوې وه او د پښتونخوا پښتو لنډې کیسې د څېړنې برخه د همدې لپاره پرېښودل شوې وه چې د یوې ځانګړې علمي- څېړنیزې پروژې په توګه تر سره شي، نو ځکه دا موضوع د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت له خوا د څېړنې لپاره ماته راکړل شوه چې دا هم د موضوع د څېړنې مبرمیت او اهمیت پوره جوتولی شي.

د دې څېړنیز اثر د لیکنې په بهیر کې له ځینو ستونزو سره مخامخ وم چې هغه به د دې څېړنې په بشپړتیا کې د لږ ډېر ځنډ لامل شوې وي:

لومړی خو دا چې پوره دیارلس کاله په داسې ادارو کې د چارو په سرته رسولو بوخته وم چې د خپل علمي څېړنیز کار د بشپړولو لپاره مې ډېر لږ وخت درلود، بل دا چې د اړوندې موضوع په باب ډېرې لږې خورې ورې لیکنې او څېړنې شوې وې او په پښتونخوا کې خو بیا هغه څکه ډېرې کمې وې چې هلته تخلیقي ادب ښه پرمختللی دی، دا چې زما څېړنه د پښتونخوا د لنډې کیسې په باب وه او باید چې ډېره مې د هغه ځای په تخلیقي داستاني آثارو تکیه کړې وای، هغه دلته په ډېر لږ او په مشکل پیدا کېدل، پښتونخوا ته یې سفر غوښت او ما د خپل دولتي اداري موقف او بوختیا له امله دا کار نه شو کولی.

او بل دا چې په دولتي اداري چارو کې د بوختیا له امله، زما پروژه پنځلس کاله و ځنډېده او په دې موده کې د لنډو کیسو ډېر پیاوړي لیکوال او دکیسو ډېرې ټولګې او بېلګې چاپ شوې، د هغو پیدا کول او له مخې یې دا څېړنه بشپړول ضروري وو، نو څکه په موضوع پورې اړوندو منابعو او سرچینو (ادبي آثارو) تر لاسه کول، زما لپاره یوه لویه ستونزه وه چې هغه مې د امکان تر بریده د علومو اکاډمۍ پرکتابتون سربېره د ځینو فرهنګي دوستانو او د علومو اکاډمۍ د علمي، مسلکي همکارانو له ځانګړو کتابتونو څخه تر لاسه کړل او د هغو پربنسټ مې دا علمي څېړنیزه پروژه د خپل وروستي تمدید په موده کې بشپړه کړه، په هر حال!! د امکان تر بریده مې هڅه کړې چې د دې علمي - څېړنیزې پروژې چارې د موجودو معتبرو باوري آثارو او سرچینو څخه په استفاده داسې ترسره کړم چې د موضوع په باب د مخکنیو شوو کارونو په پرتله په نسبي توګه بشپړه وي او هم له لږو ډېر نوښت څخه برخمنه او د موضوع څېړنیز حق په مناسب ډول ادا شوی وي، بیا هم زه په ټوله معنا د دې څېړنې د پوره توب او کره توب دعوه نه شم کولی او په دې برخه کې د لا زیاتو څېړنو اړتیا وینم.

په پای کې تر هر چا ړومبی له خپل لارښود استاد څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي څخه چې ګام پر ګام یې په دې څېړنه کې ما ته لارښوونه کړې، د خپل ځانګړي بډای کتابتون ډېر داسې غنیمت آثار یې زما په واک کې راکړي چې که هغه نه وای، د دې څېړنې تر سره کېدل زما لپاره ناشوني وو، همدارنګه یې په

پوره حوصله او زغم زما د څېړنيزې پروژې په سلګونو پاڼې لوستي او ځای پرځای يې پکې لازمې سمونې کړي، د زړه له کومې مننه کوم، پاک رب ته لاسونه لپه کوم چې زما خدای بخښلي استاد سرمحقق عبدالله بختاني ته  اووه واړه جنتونه په نصيب کړي... چې په خپل وخت کې يې په ګټورو مشورو او لارښوونو نازولې يم او هم يې د خپل ځانګړي کتابتون کتابونه د استفادې لپاره راکړي وو.

ښتن تعالی دې وکړي چې (د پښتونخوا پښتو لنډې کيسې) په اړه زما دا کړې خواري د ادب څېړونکو، زده کوونکو او د پښتو ژبې او ادب عامو مينه والو ته په ښه ور شي او  د پښتو ادب په بډاينه کې مناسبه ونډه ترسره کړي.

په هېواد کې د سولې، سوکالی،  هر اړخيزې فرهنګي ودې او پرمختيا په هيله!